همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# کابل

د افغانستان پایتخت کابل په هیواد کې د ټولو فعالیتونو د همغږۍ مرکز دی. حکومت، وزارتونه، د المان سفارت، زیات شمیر غیرحکومتي سازمانونه، او د ټولو نړیوالو مرستندیو هیوادونو د پراختیایي همکاری اداري دلته میشته دي. په کابل کې قوانین تسوید کیږي، استراتیژۍ طرحه کیږي، ملکي ودانیزې پروژې پیل کیږي او پراختیایي مفکورې پلی کیږي، په یو شمیر مواردو کې نومورې کارونه د افغانستان سره د المان د همکارۍ د پروګرام په مرسته ترسره کیږي.

د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام په کابل کې د ډیرو کلونو راهیسې کار کوي او افغاني شریکانو ته په سیاسي کچه د سلامشورې خدمتونه برابروي تر څو ملي پالیسی او لړۍ سمون ومومي، د اداري فساد سره مبارزه وشي او د قانون د واکمنۍ اصول وپيژندل شي. د المان حکومت د ښې حکومتوالۍ په ډګر کې په پروګرامونو کې د برخې اخیستنې په شان یو زیات شمیر تعلیمي او روزنیز نوښتونه تمویلوي. سربیره پردې، د انرژۍ، روغتیایي څارنې، اوبو رسونې او د ناولیلو اوبو د دفعې د پروژو ملاتړ کوي.

د دې لپاره چې د افغانستان په ملاتړ شریکې هڅې په ډیره اغیزمنه توګه همغږې شي، په کابل کې د ټولو ګټو لرونکو ډلو او د افغان حکومت تر منځ سلامشورې ترسره کیږي. په دې توګه، اغلباً د ولایت، ولسوالیو او ښاریو په کچه د پروژو د ډیزاین په باب پریکړې کیږي. یو زیات شمیر پروګرامونو مرسته کړیده چې بدلونونه منځته راشي او د اوسیدونکو د ژوند شرایط سمون وموي.

په دغه برخه کې په کابل کې د افغانستان سره د المان د همکارۍ د پروګرام د فعالیتونو په باب یوه لنډه کتنه لوستلای شی.

Project:
د کابل په زړه کې د ژوند کیفیت ته سمون ورکول او د کار د فرصتونو منځته راوړل
د افغانستان په شمال کې د پایښتونکي اقتصادي ودې ټینګښت
د پاکو اوبو دپاره څرګنده مقررات او روزل شوي مسلکي کارکوونکي
په کابل کې د ډیرو اوبو د شتون په موخه د څښاک د اوبورسونې د سیستم پراخول
برښنا د اقتصادی شاخص په توګه– د قانونی چوکاټ رامنځ ته کول او د پانګونې آسانتیاوې
د افغانستان لپاره نوې کیدونکي انرژۍ
د اوبو څخه د برښنا د تولید د فابریکو په کارولو سره کابل ښار ته د داېمنې انرژۍ برابرول
په افغانستان کې د ښوونځیو څخه ملاتړ – د ښه تدریس په موخه
په افغانستان کې د پراختیا دپاره سپورت
د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوې سټنډرډونه او درسي نصابونه
په افغانستان کې د کانونو ایستل – د لوړو زده کړو سمون او د نوښتونو منځته راوړل
د یوه اغیزمن او باوري دولت دپاره اصلاحات
د ښې حکومتوالۍ په باب دخبرو اترو پلاتفرم: د افغانستان د حکومتوالۍ غونډه
په افغانستان کې د کارپوهانو ادغام
د سولې دپاره ځوانان
د اقتصادي ودې په موخه د کانونو دوامداره ایستنه

- English
- Deutsch
- دری

Bundesministerium für
wirtschaftliche Zusammenarbeit
und Entwicklung